مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولی ناروغ

۲۰۲۱/۰۴/۱۲

# زما یار

ربه ځرنگه بدرنگ دی زما یار
تر ویجاړونه ډیر ړنگ دی زما یار

د پردو په ننگ یې وتړله توره
د پرنگ د تورې زنگ دی زما یار

د پردو د دین په رنگ راغی مورچل ته
د خپل دین په وینو رنگ دی زما یار

د ذلت په آستانه کې دومره پست دی
چې په ټیټو کې ډیر دنگ دی زما یار

د عرب په امامت پسې سجده کړي
د عجم په وینو رنگ دی زما یار

د ځلمو د مستي شور یې هدیره کړ
له ایمان سره په جنگ دی زما یار

غوځه غاړه یې په غاړه گدایي کا
لکه غره لاندې ګړنگ دی زما یار

ولی ناروغ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاریَ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ